# په رِزق کښې د زیاتوالي

# اسباب

05-January-2023



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پہ 5 جنورئ کال 2023ء د پاکستان پہ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# پہ رِزق کښې د زیاتوالي اسباب

پہ دې بیان کښې بہ تاسو زده کړئ...

- ---پہ رِزق کښې د زیاتوالي 2 روحاني وظیفې
- ---د مال دِیني او دُنیائي فائدې
- ---د آسمان او زمکې برکتونہ بہ څنګه میلاؤیږي؟
- ---د ډوډئ احترام کوئ---!!
- ---د غریبئ بعضې وجې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبہ بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نُبوَّت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د الله پاک زیات ذِکر کول او په ما باندې دُرودِ پاک لوستل غریبي ختموي-[1]

تم ہو جوّاد و کریم، تم ہو رَءُوف و رَحیم
بھیک ہو داتا عطا، تم پہ کروروں درود

خَلق کے حاکم ہو تم، رِزق کے قاسم ہو تم
تم سے ملا جو ملا، تم پہ کروروں درود[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[3]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه ښه نیتونه بنده جنّت ته رسوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم. ❀ عِلمِ

---

[1] ... القول البدیع، باب الثانی، صفحہ:135

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحہ:269-

[3] ... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895-

دين به زده کووم ❀ پوره بيان به اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به باآدبه کښينم ❀ نصيحت به حاصلووم ❀ د اَحْمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په رِزق کښې د زياتوالي 2 روحاني وظيفې

(1): يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دُنيا زما نه مخ اَړَولے دے- خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته د غريبئ نه د خلاصي روحاني وظيفه اوښودله او اوئې فرمائيل: آيا تاته د فرښتو تسبيح ياده نه ده؟ د کومې په برکت چې رزق ورکولے شي، بيا ئې اوفرمائيل: د سحر د راختو سره 100 ځله وايه:

سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحٰنَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ الله

هغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وظيفه واوريدله او لاړلو، يو څو ورځې پس بيا حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دُنيا ماله دومره زياته راغله، زه حيران يم چې چرته ئې اوچته کړم او چرته ئې کيږدم-[1]

(2): حضرت سهل بن سعد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل يو کَس په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او د خپل فقر او غريبئ شکايت ئې اوکړو- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې ته خپل کور ته ننوځې نو کور والوؤ ته سلام کوه! که چرې په کور

[1]... خصائصُ الکبریٰ ، جلد:2، صفحہ:299-

کښې څوک نه وي نو په ما باندې سلام عرض کوه او یو ځل قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (یعني پوره سُورهٔ اِخلاص) لوله۔

هغه صحابي رضی اللہ عنہ لاړلو او په دې ئې عمل شروع کړو، کله چې به کور ته ننوتلو نو کور والوؤ ته به ئې سلام کولو، بیا به ئې سُورهٔ اِخلاص شریف لوستلو، د دې په برکت سره په هغوئي رضی اللہ عنہ باندې دومره کرم اوشو، اللّٰه پاک ورله دومره مال ورکړو چې هغوئي د خپلو ګاؤنډیانو او خپلوانو هم خِدمت شروع کړو۔ [1]

| | |
|---|---|
| شافعِ روزِ جزا تم پہ کروروں درود | دافعِ جُملہ بلا تم پہ کروروں درود [2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## رِزق هم یو نعمت دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! رِزق هم د اللّٰه پاک راکړے شوے یو نعمت دے۔ اللّٰه پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَ ابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ<br>(پاره:28، سورهٔ جمعه:10) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او بیا چې کله لمونځ اوشي نو په زمکه کښې خواره شئ او د اللّٰه پاک فضل لټوئ۔ |

یعني چې کله د (جُمعې) لمونځ پوره شي نو اوس ستاسو د پاره جائز دي چې د معاش [ګټې

1... تفسیر قرطبی، پاره:30، سورهٔ اخلاص، زیرِ آیت:1، جلد:10، صفحه:4765۔
2... حدائقِ بخشش، صفحه:264۔

وَتې] په کارونو کښې مشغول شئ- [1] د دې آيت مبارک نه دا معلومه شوه: چې رِزق هم د الله پاک فضل دے، د هغه نعمت دے-

## د مال دِيني او دُنيائي فائدې

يقيناً چې د مال محبت ښه نه دے، د مال محبت انسان په هلاکت کښې غورځوي، البته د ژوند تيرولو د پاره مال، دولت، رزق هم ضروري دے ❁ ظاهره ده چې مال وي نو مونږه به د ژوند بنيادي ضرورتونه پوره کولے شو ❁ چې مال وي نو د ځان، د خپل کور والوؤ، د بال بچ به بهتره روزنه پالنه اوکړے شو ❁ چې مال وي نو ځان، بال بچ به د فقر، غريبئ او سوال کولو وغيره نه بچ کړے شو ❁ چې مال وي نو بيا به د صدقې او خيرات فضيلتونه حاصلولے شو ❁ چې مال وي نو د خپلوانو او ګاؤنډيانو وغيره مالي حقونه به ادا کړے شو ❁ چې مال وي نو د الله پاک د رضا د پاره به جُمات يا مدرسه جوړه کړے شو ❁ چې مال وي نو حج به هم اوکړے شو ❁ چې مال وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د مدينې منورې حاضِري به هم آسانه شي او ❁ چې بقدرِ کفايت حلال رزق وي نو د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د شيطاني چلونو نه بچ کيدل آسان شي-

## په کُفر کښې د اخته يوه وجه

د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كَادَ الْفَقْرُ اَنْ يَّكُوْنَ كُفْرًا يعني نزدې ده چې فقر (غريبي، محتاجي، غربت) انسان په کُفر کښې اوغورځوي- [2]

---

1... تفسیرِ صراط الجنان، پارہ:28، سورۂ جمعہ، زیرِ آیت:10، جلد:10، صفحہ:157-

2...شعب الایمان، جلد:5، صفحہ:267، حدیث:6612-

هسې خو په حدیثونو مبارکو کښې د غریبۍ ډېر فضیلتونه بیان شوي دي، غریبي بده نه ده ښه او ګټه وره ده خو غریبي هغه ښه ده کومه چې د شُکر سره وي، کله چې د غریبۍ سره د شُکر په ځائے ګیله راځي نو غریبي د هلاکت وجه جوړیږي- د ګیډې اور ډېر خطرناک اور دے، دا انسان بے وسه کوي، کله چې په انسان باندې د لوږې ازمیښت راشي نو ځان سمبالول، ایمان مضبوط ساتل، په دې امتحان کښې په استقامت سره کامیابیدل ډېر ګران شي، ډېر داسې خلق دي کوم چې د غریبۍ، محتاجۍ او فقر نه تنګ شي او په الله پاک باندې اعتراضونه شروع کړي، د کُفر جُملې وائي او داسې ډېر نادانه په دنیا کښې شته کوم چې د ګیډې د اور مړ کولو یا د مال او دولت د حِرص په وجه ځان کافِران لیکي، ځان کافِر اولیکي او د بهر ملکونو ویزې هم حاصلې کړي- (اَسْتَغْفِرُ الله ! اَسْتَغْفِرُالله!)

الله پاک دې زمونږه ایمان محفوظ کړي، مونږ دې د ایمان د خلاصیدو د آفت نه محفوظ اوساتي- بهر حال! چې خومره ممکن وي د محتاجۍ نه د بچ کیدو او بقدرِ کفایت د حلال رزق ګټلو په کوشش کولو کښې خیر دے-

## د شیطان خلاف ډال

حضرت سفیان ثوري رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ ډېر لوئي ولئ کامل، با عمله عالِم دے، کله چې د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ آخري وخت راغلے نو یوه تهیلئ ئې راویستله، په هغې کښې درهمې او دینارونه (یعني د سپینو او سرو زرو سِکې) وې، اوئې فرمائیل: دا د الله په لار کښې صدقه کړئ! خلقو عرض اوکړو: عالي جاه! تاسو خو به د مال نه د بچ کیدو درس ورکولو، تاسو پخپله مال جمع کړو په دې کښې څه حکمت دے؟ اوئې فرمائیل: ما د دې په ذریعه د

شیطان چلونه ناکامه کول، کله چې به شیطان زما [په زړه کښې] وسوسه اچوله چې د کوم ځائے نه به خورې نو ما به وئیل: زما سره مال دے، هغه به اولګووم-[1]

سُبْحٰنَ الله! یقیناً دا د الله پاک نیک بنده ګان دي، د دوئي دا انداز زمونږه د پوهه کولو د پاره دے- الله پاک دې زمونږه پوهه نصیب کړي- بهر حال! بقدرِ کفایت حلال رزق ګټل هم جائز دے او د خپلو حالاتو، باطِني کیفیتونو او د تَوَکُّل د درجې مطابق د ضرورت په طور مال جمع کول هم جائِز دے- د دې مختلف صورتونه جوړیږي، که تفصیلي معلومات غواړئ نو د مکتبة المدینه کتاب **حرص** اولولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دیني معلوماتو نایابه خزانه به په لاس درشي-

مِرا دل پاک ہو سرکار! دنیا کی محبت سے | مجھے ہو جائے نفرت کاش! آقا! مال و دولت سے[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سبق نه یو ډک حدیثِ پاک

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه د غربت، محتاجۍ او غریبۍ نه څنګه بچ کیدے شو؟ په حلال رزق کښې د زیاتوالي ذریعې څه څه دي؟ په دې باره کښې د مدني ګل د اوریدو نه مخکښې راځئ! یو ایمان تازه کوونکے او د سبق نه ډک حدیثِ پاک اورو-

خواست دے چې دا حدیثِ پاک مونږه د خپلو اوسنو حالاتو مخې ته د کیښودو سره واورو، څوک چې غریب دے هغه دې خپله غریبي مخې ته کیږدي او څوک چې مالداره

1... تذکرة الاولیا، صفحه:144 ملتقطاً-
2... وسائلِ بخشش، صفحه:401-

دے هغه دې خپله مالداري مخې ته کيږدي او دا حديثِ شريف دې واوري-

د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دُنيا د څلورو کَسانو د پاره ده: (1): هغه بنده چاله چې الله پاک مال هم ورکړو او د عِلمِ دين دولت ئې هم ورکړو، بس دا د مال په معامله کښې د الله پاک نه ويريږي، د خپلوانو سره ښه سلوک کوي او د الله پاک د رضا د پاره د مال حقونه ادا کوي، دا بنده په اَفضَله درجه کښې دے- (2): يو هغه بنده دے کوم له چې الله پاک د عِلمِ (دين) دولت خو ورکړو خو مال ئې ورنکړو خو هغه رښتوني نيت والا دے، وائي: که چرې زما سره مال وے نو ما به د فلانکي (نيک مالداره) په شان (د نيکو والا) کارونه کول- د دې دواړو ثواب يو شان دے (يعني دا غريب او هاغه مالداره کوم چې د مال حقونه ادا کوي، په ثواب کښې دا دواړه يو شان دي، هغه د مال لګولو په وجه، دا د ښه نيت په وجه)- (3): يو هغه بنده دے کوم له چې الله پاک مال ورکړو خو عِلمِ (دين) ئې ورله ورنکړو، بس هغه په خپل مال کښې بغير د عِلم نه ګډ وَډے کوي (يعني په هره حرامه او حلاله طريقه باندې مال ګټي او په هر حلال او حرام ځائے کښې ئې لګوي، نه پخپله عالِم دے، نه د عالِمانو مني)، نه د مال د حقونو په معامله کښې د الله پاک نه ويريږي، نه د خپلوانو سره ښه سلوک کوي، نه د مال حقونه ادا کوي، دا د ټولو نه د خبيثې درجې والا دے- (4): يو هغه بنده دے کوم له چې الله پاک مال ورنکړو، نه ئې عِلم ورکړو، هغه وائي: که چرې زما سره مال وے نو ما به د فلانکي (خراب مالداره) په شان کارونه کول (مثلاً ما به هم شراب څښل، جواري به مې

کوله، ښه عيش به مې کولو)، نو دا په خپل نيت باندې دے او د دې دواړو (يعني د خراب مالداره او جاهله غريب) ګناه يو شان ده-[1]

خومره د سبق نه ډک حديثِ پاک دے، که مونږه اميران يو که غريبانان، که مالداره يو او که فقيران، بهر حال عِلمِ دين مونږ له لازمي زده کول پکار دي، مال يو اور دے، څوک چې د دې په استعمالولو باندې پوهيږي، د هغه د پاره ګټه ور دے او څوک چې د دې په استعمال نه پوهيږي، هغه دا په هلاکت کښې غورځوي، دې د پاره مالداره، غريبانانو ټولو له پکار دي چې عِلمِ دين لازمي زده کړي- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک د لاندې ډيره ښکلې دُعا ليکلې ده، فرمائي: الله پاک دې عثماني مال راکړي، د ابوجهلي مال نه مو دې بچ کړي-[2]

**عثماني مال:** يعني هغه مال چې د بنده سره عِلمِ دين هم وي، مال هم وي او هغه د حلالې ذريعې نه مال اوګټي، په حلال ځائے کښې ئې اولګوي او د مال په باره کښې د الله پاک نه ويريږي، او د هغه د رضا حاصلولو په خاطِر د مال حقونه ادا کوي- او **ابو جهلي مال:** يعني هغه مال چې د بنده سره مال خو وي خو د عِلمِ دين دولت ورسره نه وي، بنده د حرامې ذريعې نه مال اوګټي، هم په حرامه کښې ئې اولګوي، نه د الله پاک نه ويريږي، نه د مال حقونه ادا کړي- مونږه هم دُعا کوؤ چې الله پاک دې مونږ له

[1]... ترمذی، کتاب:الزہد، باب:ماجاء مثل الدنیا مثل اربعۃ نفر، صفحہ:557، حدیث:2325-
[2]... مرآۃ المناجیح، جلد:7، صفحہ:101-

عثماني مال راکړي او د ابو جهلي مال نه مو دې هر وخت بچ کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جاہ و جلال دو نہ ہی مال و مَنال دو
سوزِ بلال بس مِری جھولی میں ڈال دو
دُنیا کے سَارے غم مرے دل سے نکال دو
غم اپنا یا حبیب! برائے بِلال دو[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ! په رزق کښې د زياتوالي د اسباب اورو:

## په رزق کښې د زياتوالي وجه: زيات اِستِغفَار

الله پاک خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حکم اوکړو چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو اوفرمائيئ!

اَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى

(پاره:11 ، سورۀ هود:3)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: دا چې د خپل رَبّ نه معافي غواړئ بيا د هغه په لور توبه کړئ نو هغه به تاسو ته د يو ټاکلے شوي وخت پورې ښه فائده درکړي۔

يعني اے نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خلقو ته دا حکم اوکړئ چې تاسو د الله پاک نه د خپلو تيرو ګناهونو معافي اوغواړئ او بيا د پاره د ګناه کولو نه توبه کړئ نو چا چې د خپلو ګناهونو نه پخه توبه کړه او په اخلاص سره د خپل رَبِّ کريم عبادت کوونکے

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:305۔

جوړ شو نو الله پاک به هغه ته ډیر رزق او فراخه عیش عطا کړي د کوم په وجه چې به هغه د امن او سکون په حالت کښې ژوند تیروي او الله پاک به د هغه نه رضا وي، که چرې په دنیا کښې هغه د څه سختې سره مخ هم شي نو د الله پاک د رضا حاصلیدو په وجه به دا د هغه د درجو اوچتولو وجه جوړه شي- (1)

## د حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام قوم ته نصیحت

په 12 سیپاره، سُورَۂ هُود، آیت: 52 کښې دي، د الله پاک نبي حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام خپل قوم ته اوفرمائیل:

يٰقَوۡمِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا اِلَيۡهِ يُرۡسِلِ السَّمَآءَ عَلَيۡكُمۡ مِّدۡرَارًا وَّ يَزِدۡكُمۡ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمۡ وَلَا تَتَوَلَّوۡا مُجۡرِمِيۡنَ ﴿۵۲﴾

(پاره:12، سورۂ هود:52)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: اے زما قومه تاسو د خپل رَبّ نه معافي اوغواړئ بیا د هغه په بارګاه کښې توبه کړئ نو هغه به په تاسو تیز باران اوروي او ستاسو د طاقت سره به نور طاقت زیات کړي او تاسو د مجرمانو جوړیدو سره مخ مه اړوئ-

په **تفسیر صراط الجنان** کښې دي: کله چې عاد قوم د حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَام دعوت قبول نه کړو نو الله پاک د هغوئي د کُفر په وجه د 3 کالو پورې باران له دمه ورکړله او ډیر زیات قحط راغلے او د هغوئي ښځې ئې شَنډې کړلې، کله چې دا خلق ډیر پریشانه شول نو حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَام ورسره لوظ اوکړو چې که چرې هغوئي په الله پاک باندې ایمان راوړي او د هغه د رسول تصدیق اوکړي او د هغه په حُضُور کښې توبه او اِستِغفار

[1]... تفسیر صراط الجنان، پاره:11، سورۂ هود، زیرِ آیت:3، جلد:4، صفحه:393-

اوکړي نو الله پاک به باران نازل کړي او په زمکه به شینکے زرعون کړي او تازه ژوند به عطا کړي او طاقت او اولاد به ورکړي-(1)

## د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام قوم ته نصیحت

دغه شان د الله پاک نبي حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام خپل قوم ته اوفرمائيل:

اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۙ﴿۱۰﴾ یُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَیْكُمْ مِّدْرَارًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ یُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِیْنَ وَ یَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ یَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ؕ﴿۱۲﴾

(پاره: 29، سورۂ نوح: 10 -11-12)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: د خپل رَبّ نه معافي اوغواړئ بے شکه هغه ډیر معاف کوونکے دے- هغه به په تاسو باندې تیز باران اوروي- او د مالونو او ځامنو په ذریعه به ستاسو مدد اوکړي او ستاسو د پاره به باغونه جوړ کړي او ستاسو د پاره به نهرونه جوړ کړي-

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د 3 انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ارشادات دي کوم چې الله پاک په قرآنِ کریم کښې ذِکر کړل ❁ **رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ته حکم اوشو** چې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خلقو ته اووائیئ! اِستِغفار اوکړئ، توبه کړئ، د دې په برکت به الله پاک رزق فراخه کړي ❁ **حضرت هُود** عَلَيْهِ السَّلَام **خپل قوم ته اوفرمائيل**: اِستِغفار اوکړئ! الله پاک به قحط لرې کړي، رزق به فراخه کړي ❁ **دغه شان حضرت نُوح** عَلَيْهِ السَّلَام **خپل قوم ته هم دا اوفرمائيل**: اِستِغفار اوکړئ! الله پاک به قحط لرې کړي او تاسو له به رزق، مال او اولاد درکړي-

---

1... تفسیر صراط الجنان، پاره:12، سورۂ ہود، زیرِ آیت:52، جلد:4، صفحه:450-

دا 3 ګواهئ دي، د چا؟ د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام- په کوم ځائے کښې بيان شوې؟ په قرآنِ کريم کښې- که چرې اوس هم مونږ په دې باندې اعتماد اونکړو ❀ اوس هم مونږه د رزق د زياتوالي د پاره غلطې لارې خپلې کړو ❀ د جوارئ ملاتړ واخلو ❀ مسلمانانو له دهوکه ورکړو ❀ په ناپ تول کښې خيانت اوکړو ❀ ناحقه د سوال دروازه د ځان د پاره برسيره کړو ❀ د سود لين دين شروع کړو نو زمونږ په شان کم عقل به نور څوک وي- د جوارئ سره، د سود د لين دين سره، د مال ګټلو د پاره د حرامو لارو خپلولو سره مال زياتيږي نه، د ځان وبال جوړيږي- دې د پاره که چرې مونږه په دُنيا او آخرت کښې د خوشحاله ژوند تيرولو خواهش لرو نو چې ګناه پريږدو، توبه او اِستِغفار اوکړو، اِنۡ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! الله پاک به کرم اوکړي-

## د هرې پريشانئ نه د خلاصي لاره

د نبيانو تاجوَر، مَحبوبِ رَبِّ اکبر صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې اِستِغفار په ځان باندې لازم کړو الله پاک به د هغه هره پريشاني ختمه کړي او د هرې سختې نه به سکون ورکړي او هغه له به د هاغه ځائے نه رزق ورکړي، د چرته نه چې به د هغه ګمان هم نه وي- (1)

## د ټولو مسئلو هم يو حل

يو ځل د حضرت حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له يو کس راغلے او هغه د باران د کمي شکايت اوکړو، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د اِستِغفار کولو حکم اوکړو، بَل کس راغلے او هغه د غريبئ شکايت اوکړو نو هغه ته ئې هم دغه حکم اوکړو، بيا دريم کس راغلے او هغه د

1... ابن ماجه، كتاب: الادب، باب: الاستغفار، صفحه:612، حديث:3819-

بے اولادئ شکايت اوکړو نو هغه ته ئي هم دغه اوفرمائيل چې اِستِغفار اوکړه!، بيا خلورم ګس راغلے او هغه د خپلې زمکې د پيداوار د کمي شکايت اوکړو نو هغه ته ئي هم اوفرمائيل: اِستِغفار کوه! حضرت رَبيع بن صَبِيح رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کوم چې هلته حاضِر وو هغوئي عرض اوکړو: ستاسو خوا له يو څو ګسان راغلل او قِسما قِسم حاجتونه ئي وړاندې کړل، تاسو هغوئي له هم يو جواب ورکړو چې اِستِغفار کوئ؟ په دې باندې امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا آيتونه اولوستل: (1)

اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۙ﴿۱۰﴾ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ يَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ؕ﴿۱۲﴾

(پاره: 29، سورۂ نوح: 10 -11-12)

ترجَمۂ كنزُ العرفان: د خپل رَبّ نه معافي اوغواړئ بے شکه هغه ډير معاف کوونکے دے- هغه به په تاسو باندې تيز باران اوروي- او د مالونو او ځامنو په ذريعه به ستاسو مدد اوکړي او ستاسو د پاره به باغونه جوړ کړي او ستاسو د پاره به نهرونه جوړ کړي-

## باران شروع شو

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خلافت کښې يو ځل قحط راغلے، باران نه کيدو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د باران د دُعا د پاره خلق راجمع کړل، ميدان ته ئي تشريف راوړلو او صِرف اِستِغفار ئي کولو، د دې نه علاوه ئي د الله پاک نه هيڅ اونه غوښتل- بس! د دې اِستِغفار په برکت سره باران اوشو-

[1]... تفسيرِ خازن، پاره:29، سورۂ نوح، زيرِ آيت:10 -11، جلد:4، صفحه:345-

خلق حيران شول، اوئې وئيل: اے امير المؤمنين! مونږه د باران د دُعا د پاره راغلي وو، تاسو خو دُعا هم اونکړه- په دې باندې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د قرآنِ کريم دا آيت مبارک تلاوت کړو:

اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۟ۙ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۟ۙ

(پاره: 29، سورهٔ نوح: 10- 11)

ترجَمهٔ کنزُ العرفان: د خپل رَبّ نه معافي اوغواړئ بے شکه هغه ډير معاف کوونکے دے- هغه به په تاسو باندې تيز باران اوروي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِستِغفَار عادت جوړ کړئ!

اے عاشقانِ رَسُول! د اِستِغفَار د برکت په وجه واقعي ده چې غربت ختميږي، د محتاجئ او غريبئ نه خلاصے موندلے کيږي- د دې نه علاوه د اِستِغفار نورې هم ډيرې فائدې دي، مثلاً: ❀ د اِستِغفَار په برکت د زړه نه زنګ لرې کيږي [1] ❀ ګناهونه رَژيږي ❀ د اِستِغفَار په برکت سره پريشانئ ختميږي ❀ د سختو نه خلاصے موندلے کيږي [2] ❀ د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې دا اوغواړي چې

1... معجم اوسط، جلد:5، صفحه:152، حديث:6894-
2... ابن ماجه، کتاب: الادب، باب: الاستغفار، صفحه:612، حديث:3819-

د هغه عمل نامه دې هغه خوشحاله کړي، هغه له پکار دي چې په خپله عمل نامه کښې اِستِغفَار زيات کړي-[1]

| | |
|---|---|
| بڑی کوششیں کی گنہ چھوڑنے کی | رہے آہ! ناکام ہم یاالٰہی! |
| مجھے سچّی توبہ کی توفیق دیدے | پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِستِغفَار کولو طريقه

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ له هم د اِستِغفَار کولو عادت جوړول پکار دي- د اِستِغفَار معنیٰ ده: د بخښنې دُعا: اَسْتَغْفِرُ الله، اَسْتَغْفِرُ الله لولئ، اَسْتَغْفِرُ اللهَ رَبِّی مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ وَّ اَتُوْبُ اِلَيْهِ لولئ، دا اِستِغفَار دے- د دې نه علاوه په حديثونو مباركو كښې د اِستِغفَار نورې هم ډيرې صيغې بيان شوې دي- هسې خو هم په ګرځيدو كښې اَسْتَغْفِرُ الله، اَسْتَغْفِرُ الله لولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې فائده به وي، البته مونږ له باقاعده په ترتيب سره هم اِستِغفَار كول پكار دي، مثلاً: وخت او شميره مقرر كړئ، د مثال په طور د سحر د لمونځ نه پس 100 ځله، په اوداسه كښې كښينئ او د قبلې طرف ته مخ كړئ، خپلو ګناهونو او د الله پاک رحمت ته نظر اوكړئ، د زړه نه اِستِغفَار اوكړئ- د اِستِغفَار د پاره څه خاص وخت نشته، البته د

[1] ... معجم اوسط، جلد:1، صفحہ:245، حديث:839-
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:110-

شپې په آخِرئ حصه کښې د اِستِغفَار ډير فضيلت دے چې دغه وخت اِستِغفَار کول د نيکانو خلقو طريقه ده، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ۝۱۷<br>(پاره: 3، سورۂ آلِ عمران :17) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: او د شپې په آخِرئ حصه کښې بخښنه غوښتونکي۔ |

او په 26 سيپاره، سورۃِ الذَّارِيَات، آيت: 18 کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ بِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۝۱۸<br>(پاره: 26، سورۂ ذاريات :18) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: او د شپې په آخِري حصو کښې به ئې بخښنه غوښتله۔ |

معلومه شوه: چې تقوىٰ دار د شپې پاڅي، او د شپې په آخِرئ حصه کښې لمونځونه کوي، توبه او اِستِغفَار کوي هغوئي د الله پاک نيک بنده ګان دي۔ الله پاک دې مونږ له هم داسې توفيق راکړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په رزق کښې د زياتوالي دويمه وجه: تقوىٰ

په 28 سيپاره، سُورَۃُ الطَّلاق، آيت: 2 او 3 کښې الله پاک فرمائي:

وَ مَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًاۙ(۲) وَّ یَرْزُقْهُ مِنْ حَیْثُ لَا یَحْتَسِبُؕ وَ مَنْ یَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗؕ

(پاره:28 ، سورۂ طلاق:2-3)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: او څوک چې د الله نه ویریږي الله به د هغه د پاره د وَتَلو لار جوړه کړي- او هغه له به د هاغه ځائے نه رزق ورکړي د چرته نه چې د هغه ګمان هم نه وي او څوک چې په الله پاک باندې باور اوکړي نو هغه [یعني الله پاک] د هغه د پاره کافي دے-

دے حُسنِ اَخلاق کی دولت
مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا

کر دے عطا اِخلاص کی نِعمت
یا اللہ! مری جھولی بھر دے[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! معلومه شوه: چې د تقویٰ اختیارولو سره هم رزق زیاتیږي او سُبْحٰنَ الله! څومره برکتونه دي څوک چې تقویٰ اختیار کړي، هغه له رزق د هاغه ځائے نه ورکړے کیږي، د چرته نه چې د هغه ګمان هم نه وي-

بعضې وخت زمونږ سره داسې کیږي، ټولې دروازې بندې شي، مثلاً ❀ د پیسو سخت ضرورت دے، کار نه چلیږي ❀ نوکري وه، لاړه ❀ دُکان مو جوړ کړو، لاړے ❀ ماشومان د لوږې نه ژاړي ❀ د ورور نه مو قرض اوغوښتو، هغه رانکړو ❀ د دوستانو نه مو مدد اوغوښتو، هغوئي اونکړے شو ❀ ټولې دروازې بندې دي، نه پوهیږم، چې څه اوکړم، د رزق دروازه که برسیره شي نو د کوم ځائے نه برسیره شي، په داسې موقع باندې بنده په زړګونو لارې لټوي خو هغه ته څه لاره په نظر نه راځي، هیڅ طریقه نه

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:123-

ورځې، راځئ! د قرآنِ کريم طرف ته، قرآنِ کريم مونږ ته لاره ښودلې ده، هغه څه ده؟ قرآنِ کريم وائي: تقویٰ اختيار کړئ! الله پاک به تاسو له د هاغه ځائے نه رزق درکړي، د چرته نه چې به ستاسو ګمان هم نه وي-

## د آسمان او زمکې برکتونه به څنګه ميلاؤيږي؟

د تقویٰ معنيٰ ده: د الله پاک نه ويريدل، د ګناهونو نه بچ کيدل- که چرې مونږه تقویٰ اختيار کړو، د الله پاک نه ويريږو، ګناهونه پريږدو، نيک کارونه شروع کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! صِرف کرم به کيږي- الله پاک فرمائي:

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰۤى اٰمَنُوْا وَ اتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ
(پاره:9، سورۂ اعراف:96)

ترجَمۂ کنزُ العرفان: او که چرته کلو والا ايمان راوړے وے او تقویٰ ئې اختيار کړے وے نو مونږ به په هغوئي باندې د آسمان او زمکې نه برکتونه پرانستي وو-

يعني که چرې کلو والا په الله پاک، د هغه په فرښتو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د قيامت په ورځ باندې ايمان راوړے وے او د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت ئې اختيار کړے وے، د کوم څيز نه چې الله او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منع فرمائيلې ده، د هغې نه ئې ځان بچ کړے وے نو مونږ به ضرور په هغوئي باندې د آسمان او زمکې نه برکتونه پرانستي وو او د هر طرف نه به هغوئي ته خير رسيدلو، په

وخت باندې به ګټه ور بارانونه کيدل، د زمکې نه به فصل ميوې ښه ډېرې کيدلې، رزق به ئې فراخه کيدلو، امن او سلامتيا به وه او د آفتونو نه به بچ وو۔ [(1)]

معلومه شوه: د تقوىٰ په برکت سره آسماني برکتونه هم ميلاؤيږي او د زمکې برکتونه هم ميلاؤيږي، الله پاک دې زمونږه د تقوىٰ دولت نصيب کړي۔

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

احکامِ شَرع پر مجھے دے دے عمل کا شوق | پیکر خلوص کا بنا یاربِّ مصطفٰے! [(2)]

## په رزق کښېږ د زياتوالي وجه: عبادت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه د ژوند مقصد **د الله پاک عبادت دے۔** که چرې مونږه د عبادتونو د پاره ❁ د نيک کارونو د پاره وخت اوباسو ❁ پينځه واړه لمونځونه د جَمعې سره په جُمات کښې ادا کړو ❁ د نفلونو د پاره هم وخت اوباسو ❁ د قرآنِ پاک د تلاوت د پاره هم وخت اوباسو ❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو، ❁ د عِلمِ دين زده کولو او ښودلو، ❁ په علاقائي دوره کښې د شرکت کولو ❁ د دَرس ورکولو، اورولو، ❁ د مدرسة المدينه بالغان د لوستلو، نورو ته د ښودلو ❁ په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو ❁ د سحر د لمونځ د پاره د راپاڅولو ❁ په مدني قافِلو کښې د سفر کولو او د نورو نيک عملونو کولو د پاره وخت اوباسو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو حلال رزق به هم زيات شي، هم دغسې د حضرت ابو هريره رَضِىَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ رحمت، قاسِمِ نعمت

[1]... تفسیر صراط الجنان، پارہ:12، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:96، جلد:3، صفحہ:386۔
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:131۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه الله پاک فرمائي: اے د آدم اولاده! زما د عبادت د پاره ځان اوزګار کړه! زه به ستا سينه د غِنیٰ (يعني مالدارئ) نه ډَکه کړم او ستا محتاجي به ختمه کړم او که چرې ته دا نه کوې (يعني د عبادت د پاره ځان نه اوزګاروې) نو ستا لاسونه به د کار روزګار نه ډک کړم او ستا محتاجي به نه ختموم-(1)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: يعني اے د آدم اولاده! ته خپل زړه د الله پاک د عبادت او اطاعت د پاره خالي اوساته، په دَست بَکَار، دِل بَيَار باندې عمل اوکړه (يعني لاس د کار په لور او زړه د رَبِّ کائنات په لور اوساته نو د دې په برکت به الله پاک ستا غربت، محتاجي ختمه کړي)- که چرې تا خپل ځان د دُنيا په فِکرونو کښې اولګولو، ستا زړه ته دُنيا کوزه شوه نو ته به کار ډير کوې، فِکر به ډير کوې خو ميلاؤيږي به درته هغه څه کوم چې ستا په قِسمت کښې دي، ته که مالداره هم شې نو غريب به پاتې ئې- مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: د الله پاک نه آخِرت اوغواړه! دُنيا به پخپله ميلاؤ شي-(2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې حديثِ پاک باندې دې هغه نادانان مسلمانان بيا بيا غور اوکړي ❁ کوم چې د مال او دولت په خاطِر لمونځونه قضا کوي، ❁ د جَمعې سره د لمونځ نه کولو په ګناه کښې اخته وي، ❁ چې په کار کښې کمے رانشي، مالي نقصان اونشي، دې د پاره د رمضان المبارک روژې قضا کوي، ❁ خوک چې د دُنيا فِکر د فرض عِلمِ دين زده کولو نه هم محرومه ساتي، ❁ کوم چې د کاروبار، د دنيا د

---

[1]... ترمذی،ابواب صفۃ القیامۃ والرقائق والورع، صفحہ:585،حدیث:2466-

[2]... مرآۃالمناجیح،جلد:7، صفحہ:14 -15 -

مصروفیاتو بهانه جوړه کړي، د مال د حِرص په وجه د نیک کارونو نه لرې پاتې کیږي- آه! کوم نادانه چې د دنیا په فِکرونو کښې اوسیږي، د ژوند د اصلي مقصد یعني د عبادتونو د پاره، د نیک کارونو د پاره وخت نه اوباسي، هغه بس صِرف د دنیا پاتې شي، الله پاک د هغه نه غریبي، محتاجي نه لرې کوي، ده ته میلاؤیږي هغه څه، کوم چې ئې په قسمت کښې لیکلي وي خو د ده ځواني د فاني دُنیا په فضول فِکرونو کښې تباه شي او هغه خوش قسمته کوم چې د آخِرت فِکر کوي، د عبادت د پاره وخت اوباسي، د نیک کارونو د پاره وخت اوباسي، الله پاک د هغه سینه د غِنیٰ [یعني مالدارئ] نه ډکه کړي، د هغه غربت، محتاجي او فقیري لرې کړي-

ایسا کرم ہو نیکیوں میں دِل لگا کرے | پڑھتا ہوں گر نماز بھی تو بے دِلی کے ساتھ [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نا اشنا مزدوري، نا اشنا اُجرت

حضرت وهب بن مُنَبّه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په بني اسرائیلو کښې یو کَس وو، بقدرِ کفایت حلال رزق به ئې ګټلو او نور وخت به ئې په عبادت کښې تیرولو- یو ځل پرله پسې تر ډیرو ورځو پورې هغوئي ته چرته هم مزدوري میلاؤ نه شوه او لوږې تندې ته خبره اورسیدله خو هغوئي حوصله اونه بائلله، یوه ورځ هغوئي د الله پاک نیک بنده سحر وختي د الله پاک نوم واخستو او د مزدورئ لټولو د پاره اووتلو خو چرته ورته هم څه کار میلاؤ نه شو- آخِر ستړے شو او هغوئي د دریاب خوا له راغلے، اودس ئې اوکړو او په عبادت

[1]... وسائل بخشش، صفحہ:210-

کښې مصروفه شو- دغه شان هغوئي ټوله ورځ په نفلونو کښې تیره کړله- ماښام چې کله هغوئي کور ته اورسیدلو نو ښځې ترې پوښتنه اوکړه: چې آیا څه کار درته میلاؤ شو؟ اوئې وئیل: آؤ! **نن ما د ډیر زیات کریم مالِک سره مزدوري اوکړه، هغه وعده کړې ده چې هغه به ماله ډیره ښه بدله راکړي-**

بَله ورځ بیا د کار په لټون کښې اووتلو، هیڅ کار ورته میلاؤ نه شو نو بیا د دریاب غاړې ته اورسیدو، اودس ئې اوکړو او عبادت ئې شروع کړو، ټوله ورځ ئې په عبادت کښې تیره کړله، ماښام کور ته راغلے، ښځې چې ئې خالي لاسونه اولیدل نو پوښتنه ئې ترې اوکړه: نن څه اوشو؟ اوئې وئیل: نن ما بیا د هغه مالک سره مزدوري کړې ده، هغه ډیر کریم دے، هغه زما سره وعده کړې ده چې ماته به زما د مزدورۍ ښه بدله راکوي، زما اُجرت د هغه مالک سره جمع کیږي- لوږې تندې وهلې ښځې چې ئې دا خبره واوریدله نو جګړه ئې ورسره شروع کړه چې دلته د څو ورځو راهسې لوږې تیروو، د ماشومانو حالت داسې شوے دے چې کتلے کیږي نه- مونږه د څو ورځو راهسې یوه لمړۍ هم نه ده خوړلې او ته چې د کوم مالک سره مزدوري کوې هغه نن هم تا له اُجرت درنکړو، داسې به ګزاره څنګه کیږي؟ د ښځې خبرې چې ئې واوریدلې نو عابد پریشانه شو، ماشومانو د لوږې نه ژړل، د هغوئي خپل حالت هم د رحم قابل وو، خیر! هغوئي شپه ډیره نا قلاره تیره کړله او سحر بیا د کار د پاره اووتلو، په دریمه ورځ ورته هم څه کار میلاؤ نه شو، بیا د دریاب غاړې ته لاړے، اودس ئې اوکړو او عبادت ئې شروع کړو- نن د هغوئي زړه څه ډیر خفه وو، هغوئي په زړه کښې سوچ کولو چې که چرې نن هم د خوراک څښاک انتظام اونشو چې کور ته لاړ شم نو ښځې او بچو له به څه جواب ورکووم؟

بیا د هغوئي یقین یو همت پیدا کړو چې د کوم پاک پروردګار ته عبادت کوې هغه به تا نه مایوسه کوي- د هغه په ذات باندې پوره یقین اوساته، هغه به ضرور رزق عطا کړي-

په دې سوچ سره، د رَبِّ کائنات د رحمت اُمید تړلو سره ئې په سجدو کولو کښېږ تړله ورځ تیره کړله، چې ماښام شو نو د کور طرف ته روان شو، چې کله دروازې ته نزدې شو نو د کور نه د خوراک د پخلي بوئي راغلے او داسې محسوش شوه چې لکه دننه ډیر د خوشحالۍ ماحول دے، ټول کور والا ئې په خوشحالۍ خبرې کولې- د هغوئي یقین نه راتلو چې زه په رښتیا په خپل کور کښې د خوشحالۍ ماحول محسوسووم او زما د کور نه د خوراک د پخلي بوئي راځي-

بهر حال هغوئي چې دروازه اوډبوله نو د هغوئي ښځې دروازه برسیره کړه- هغه ډیره خوشحاله وه، چې خپل خاؤند ئې اولیدو نو اوئې وئیل: د کوم مالِک سره چې تا مزدوري کړې ده، هغه خو واقعي ده چې ډیر کریم دے، نن ستا د تللو نه پس د هغه قاصِدر راغلے وو هغه مونږ له ډیرې درهمې او دینارونه (یعني د سپینو او سرو زرو سِکې) او ښه جامې راکړې، وړه او غوښه وغیره ئې راله هم ښه ډیر راکړل او اوئې وئیل: کله چې ستا خاؤند راشي نو هغه ته سلام وایه او ورته اووایه چې ستا مالِک ستا عمل قبول کړے دے، هغه ستا د دې عمل نه رضا دے- دا د هغې بدله ده کوم عمل چې تا کړے وو که چرې تا زیات عمل کړے وے نو ستا اجر به هم زیات کړے شوے وے-[1]

میں ہوں بندہ تُو ہے مولیٰ
میں منگتا تُو دینے والا
تُو ہے قادِر میں ناکارہ
یا اللہ! مِری جھولی بھر دے[2]

[1] ... عیون الحکایات، صفحہ:172-
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:122-

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک رحمت ډېر لوئي دے، هغه واقعي ده چې رحمان او رحيم، کريم مالِک دے- د هغه په حُضُور کښې خو سر ښکته کړئ او اوګورئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! کمے به نه پاتې کيږي- د رزق کمے دے، پريشانئ دي، تکليفونه دي، چې څه هم دي، د خپل کريم مالِک په بارګاه کښې حاضري اوکړئ! جُمات ته لاړ شئ! د عبادت د پاره وخت اوباسئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! کرم به کيږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په رزق کښې د زياتوالي وجه: د رزق قدر کول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! رزق د ضائع کيدو نه بچ کوئ، د رزق د قدر کولو او د احترام کولو په برکت هم رزق زياتيږي- هم دغسې د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مشهور کتاب: فيضانِ سُنّت، په جلد: اول صفحه: 263 باندې دي: زبردست مُحَدِّث حضرتِ هُدبه بن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه له د بغداد خليفه مَامُونُ الرَّشيد د ډوډئ دعوت ورکړو، د خوراک نه چې فارغ شو نو د خوراک چې کومې دانې وغيره پريوتې وې، حضرتِ هُدبه بن خالِد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هغه يوه يوه راوچتوله او خوړله ئې- د بغداد خليفه مَامُونُ الرشيد حيران شو او اوئې وئيل: اے شيخ! آيا تاسو تر اوسه پورې ماړه شوي نه ئيئ؟ اوئې فرمائيل: ولې نه! په اصل کښې خبره دا ده چې ماته حضرت حَمّاد بن سَلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو حديثِ پاک بيان کړے دے: کوم کَس چې د دسترخوان نه لاندې پريوتې پوتې ګوري او خوري ئې، هغه

به د غريبۍ نه بے ويرې شي- [1] زه په دغه حديث مبارک باندې عمل کووم- دا ئې چې واوريدل نو مامون ډير زيات متاثره شو او خپل يو خادم ته ئې اشاره اوکړه هغه 1000 ديناره په رومال کښې تړلي راوړل- مامون هغه ديناره د حضرت هُدبه بن خالِد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې د نذرانې په طور وړاندې کړل- حضرت هُدبه بن خالِد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! په حديث مبارک باندې د عمل برکت لاس په لاس ظاهر شو- [2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رزق د قدر کولو، رزق د ضائع کيدو نه د بچ کولو سره هم رزق زياتيږي- آه! نن سبا د رزق احترام د زړونو نه روان دے، نن سبا د رزق د بے قدرۍ او د بے حُرمتۍ نه کوم کور خالي نه دے، په بنګله کښې د اوسيدونکي اَرب پتي نه واخله تر په جونګړه کښې د اوسيدونکي مزدوره پورې د دې بے احتياطۍ ښکار په نظر راځي، په واده کښې د قِسما قِسم خوراکونو د ضائع کيدو نه واخله تر په کورونو کښې د لوښو د وينځلو تر وخته پورې چې څنګه خوروا، وريږې او د دې اجزا بهيولے شي مَعاذَالله! نالۍ ته غورځولے شي، کاش چې د رزق احترام زمونږ په زړونو کښې وے او خوراک مو د ضائع کيدو نه بچ کولے-

## د ډوډۍ احترام کوئ---!!

ياد ساتئ! د رزق قدر نه کول، د دې سپکاوے د غريبۍ وجه ده- د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا فرمائي: د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل کور مبارک ته تشريف راوړلو، د ډوډۍ پوټے چې ئې غورځيدلے اوليدلو، هغه ئې راواخِستلو او اوئې څنډلو،

[1] ... تاريخِ بغداد، جلد:4، صفحه:312، رقم:2050-
[2] ... تاريخ اصبهان، جلد:2، صفحه:333 -

بيا ئې اوخوړلو او اوئې فرمائيل: يَاعَائِشَةُ اَكْرِمِيْ كَرِيْمًافَاِنَّهَا مَانَفَرَتْ عَنْ قَوْمٍ قَطُّ فَعَادَتْ اِلَيْهِمْ يعني اے عائشې (رَضِیَ اللهُ عَنْهَا)! د ښه څيز احترام کوه چې دا څيز (يعني ډوډئ) چې د کوم قوم نه تختيدلې ده واپس نه ده راغلې-[1]

الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي! مونږ له د خوراک په شان د الله پاک د عظيم نعمت ډير زيات قدر کول پکار دي او د دې سره سره د ډوډئ خوړلو په وخت د خوراک د سُنّتو او آدابو هم ډير زيات خيال ساتل پکار دي ځکه که چرې مونږه د ډوډئ په وخت د خوراک سُنَّت او آداب مخې ته کيږدو نو اِنْ شَآءَالله الْکَرِيم! يواځې به د رزق د بے قدرئ نه په بچ کيدو کښې کامياب نه شو بلکه د دنيا د ډيرو خيرونو سره سره به د رزق د خير او برکت په نعمت هم سرفراز شو-

الله پاک دې زمونږه حلال رزق نصيب کړي، مونږ دې د محتاجئ او غريبئ نه بچ کړي او کاش! چې زمونږه د رزق قدر نصيب شي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د رزق په قدر باندې د پوهيدو او د خوراک د آدابو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه کتابونه او رسالې (1): تنگدستی اور رزق میں بے برکتی کا سبب (2): روٹی کا احترام (3): کھانے کی 5 سنتیں (4): کھانے کا اسلامی طریقہ (5): کھانے اور کھلانے کے بارے میں سوال جواب (6): او د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت

[1] ... ابنِ ماجہ، کتاب:الاطعمہ، باب:النہی عن القاء الطعام، صفحہ:545، حدیث:3353-

حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ډېر مشهور کتاب **فيضانِ سُنّت** باب **آدابِ طعام** اولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر زيات عِلمِ دين به زده کړئ۔

## د رزق د زياتوالي نورې وجې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه واوريدل چې د اِستِغفَار زيات وئيلو، د تقویٰ خپلولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو، د عبادت د پاره د زړه فارغ ساتلو او د رزق د قدر کولو په برکت سره رزق زياتيږي- په رزق کښې د زياتوالي نورې هم ډيرې وجې دي: مثلاً ❁ د خپلوانو او (خاص طور د مور پلار) سره د ښه سلوک کولو سره هم په رزق کښې برکت پيدا کيږي [1] ❁ د قرآنِ پاک د مختلفو سورتونو لوستلو مثلاً سورۀ مُلک، سورۀ مزمل، سوره وَ الليل او سورۀ اَلَم نَشرَح او خاص طور د سُورۀ واقعه تلاوت معمول جوړول هم په رزق کښې د زياتوالي وجه وي- په حديثِ پاک کښې دي: اِسْتَنْزِلُوا الرِّزْقَ بِالصَّدَقَةِ د صدقو په ذريعه باندې رزق غواړئ [2] ❁ سحر وختي پاڅيدل (او د سحر لمونځ ادا کول) د نعمتونو د زياتوالي يوه وجه جوړيږي ❁ د خلقو سره په فراخه تندي [يعني په خوشحالئ سره] ميلاؤيدل او ښه خبرې کول هم رزق زياتوي ❁ د خپل کور ماحول او د کور لوښي وغيره صفا ستهرا ساتل په رزق کښې د خير او برکت ذريعه ده ❁ پينځه واړه لمونځونه ادا کول او په دې کښې خشوع او خضوع، د لمونځ د واجبو، سُنَّتو او آدابو پوره خيال ساتل هم په رزق کښې د خير او برکت ذريعه ده ❁ جُمات ته د اذان نه مخکښې رسيدل

---

[1]... بخاری، کتاب: الادب، باب: من بسط لہ فی الرزق...الخ، صفحہ:1495، حدیث:5986-

[2]... شعب الایمان، جلد:2، صفحہ:74، حدیث:1197-

هم په رزق کښېښ د خیر او برکت ذریعه ده ❁ همیشه په اودس کښېښ اوسیدل هم په رزق کښېښ د خیر او برکت ذریعه ده ❁ د فائدې نه رسولو او فضول خبرو نه بچ کیدل هم په رزق کښېښ د خیر او برکت ذریعه ده ❁ شپه او ورځ د الله پاک په حُضُور کښېښ دُعا غوښتل ❁ د ورځې په شروع کیدو کښېښ د کور دننه بِسمِ الله او سورۂ اِخلاص لوستل ❁ د خوراک نه مخکښې او وروستو اودس کول (یعني لاس خُله وینځل) ❁ د دین په حکمونو باندې په پابندۍ سره عمل کول او د الله پاک اطاعت کول ❁ طهارت او پاکي اختیارول ❁ په دسترخوان باندې غورځیدلي د ډوډۍ پوټي کتل او خوړل ❁ د تهجدو لمونځ کول ❁ د توبو زیاتوالے کول او د سحر د سُنَّتو او د فرضو ترمینځه 70 ځله اِستِغفَار کول ❁ په کور کښېښ آیَةُ الکُرسي لوستل او ډېر زیات درود شریف لوستل ❁ قرآنِ کریم او دیني کتابونه د مدرسو د پاره وقف کول ❁ نورو ته عِلمِ دِین رَسَوَل که هغه د قرآنِ پاک یو آیت یا د دین یوه مسئله ولې نه وي، د دې سره هم په رزق کښېښ خیر او برکت او فراخي نصیب کیږي۔

## د غریبۍ بعضې وجې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! لکه څنګه چې په رزق کښېښ د برکت وجې دي هم دغه شان په رزق کښېښ د کمي وجې هم دي، که چرې د دې نه ځان بچ کړے شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په رزق کښېښ به صِرف برکتونه وینۍ ❁ د لاسونو د وینځلو نه بغیر خوراک کول ❁ سرتور سر خوراک کول ❁ په تیاره کښېښ خوراک کول ❁ په دروازه کښېښ کښیناستل او خوراک کول ❁ د مَړي سره نزدې کښیناستل او خوراک کول ❁ په جَنابَت (یعني د غُسل فرض کیدو په حالت کښېښ) خوراک کول ❁ په ګټ باندې د

دسترخوان اچولو نه بغير خوراک کول ❀ په خوراک انتظار کول ❀ په ګټ کښې پخپله بَر اړخ ته کښيناستل او خوراک لَنګې (يعني کوم طرف ته چې خپې کولے شي د هغه حصې) طرف ته کيښودل ❀ په غاښونو سره ډوډۍ راشوکول ❀ د چيني يا خاورې مات لوښي استعمالول، په دې کښې اوبه څښل (ياد ساتئ! د لوښي يا پيالئ په مات شوي ځائے اوبه ، چائے وغيره څښل مکروه دي، د خاورې په چاودلي يا د داسې لوښي د کوم د دننه حصې نه چې لرې شان هم خاوره رژيدلې وي په هغې کښې خوراک مه کوئ ځکه چې خيرے او جراثيم وغيره ګيډې ته تللے شي او د بيمارو وجه جوړيدے شي) ❀ په کومو لوښو کښې چې خوراک شوے وي هغه ښه نه صفا کول ❀ په کوم لوښې کښې چې خوراک اوکړے شي په هغې کښې لاس وينځل ❀ د خوراک څښاک لوښي سرتور ساتل (د خوراک څښاک لوښي د بِسمِ الله وئيلو سره پټول پکار دي ځکه چې بلاګانې ورکوزيږي او خرابوي ئې بيا هغه خوراک او شربت بيمارياني راوړي) ❀ ډوډۍ داسې کيښودل چې بے اَدَبي وي او خپو ته راشي ❀ دغه شان د زيات اوده کيدو عادت (د دې سره جهالت هم پيدا کيږي) ❀ لَغړ اوده کيدل ❀ د بے حيائيئ سره اودس ماتے کول (د خلقو په مخکښې په عامو لارو باندې په زړورتيا سره اودس ماتي کولو والا دې غور اوکړي) ❀ په دسترخوان باندې په غورځيدلو دانو او د خوراک د پوټو وغيره په اوچتولو کښې سستي کول ❀ د پيازو او اوګې پوستکي سيزل ❀ کور په کپړو جارو کول ❀ د شپې جارو وهل ❀ ګند په کور کښې پريښودل ❀ د مَشائخو (علمائے دِين او نيکانو بزرګانو) نه مخکښې تلل ❀ مور پلار د هغوئي په نومونو سره رابلل ❀ د دروازې يو اړخ ته ډډه وهل او اودريدل ❀ په بيتُ الخَلا (*Toilet*) کښې اودس کول ❀ په کور کښې د جولا جالَګي پريښودل ❀ په لمونځ کښې سستي کول ❀ د سحر د لمونځ نه پس د جُمات نه زر وَتَل ❀ سحر وختي بازار ته تلل ❀ ناوخته د بازار نه راتلل ❀ خپل اولاد ته ښيرې کول ❀ ګناه کول خاص طور دروغ وئيل ❀ ماته شوې ګمنځ استعمالول ❀ د مور پلار د پاره د خير دُعا

نه کول ❁ عِمامه [یعني پټکے] په ناسته تړل او ❁ پاجامه یا پرتوګ په ولاړه اغوستل
❁ په نیکو عملونو کښې د لم لیټ نه کار اخستل-[1]

دا ټولې د غریبۍ وجې دي، الله پاک دې مونږه د غریبۍ نه بچ کړي، حلال رزق دې زمونږ نصیب کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گُناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی![2]

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دُنیا او د آخِرت د خیرونو موندلو، د لمونځونو پابند جوړیدلو، د ځان او د نورو [خلقو] د اصلاح کوشش کولو او د ثواب د ذخیرې جمع کولو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اسلامي د دیني ماحول لمن اونیسئ او د دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې عملي طور برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د دین او د دنیا بے شمیره خیرونه به مو نصیب شي- په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار مدني قافله هم ده- اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د دین د تبلیغ د پاره، په ټوله دُنیا کښې د سُنتو خپرولو د پاره، پخپله د لمونځونو پابندئ کولو او د نورو د لمونځونو د عادت جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي لاندې هره میاشت په زرګونو اسلامي ورونړه په مدني قافلو کښې سفر کوي او مختلفو علاقو ته ځي او د نیکۍ د دعوت عام کولو سعادت حاصلوي، تاسو هم همت اوکړئ، د الله پاک دین له وخت ورکړئ، اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د دُنیا او د آخِرت ډیر خیرونه به مو نصیب شي- راځئ! د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے اورو!

---

1... فیضانِ سنت، صفحہ:264تا266-
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:102-

## روزګار میلاؤ شو

د ملتان (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي وررور د بيان خلاصه ده چې زه تر ډيرې مودې پورې د روزګار په لټون کښې ووم، په مختلفو ځيونو کښې مې انټرويو هم ورکړې خو هيڅ جواب رانغلے- په دغه وخت کښې زما ملاقات د دعوتِ اسلامي د يو ذمه وار اسلامي وررور سره اوشو، زه د هغه د اخلاقو او د خبرو نه ډير زيات متاثره شوم، ما ورته د خپلې بے روزګارئ په باره کښې اووئيل، هغه ماله تسلي راکړه او د ديني ماحول د برکتونو او د مدني قافلې د سپرلو ذِکر ئې اوکړو او ماته ئې د مدني قافلې ترغيب راکړو- يو څو ورځې پس په يوه کمپنئ کښې زما انټرويو وه، ما نيت اوکړو چې د انټرويو نه پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د 3 ورځو په مدني قافله کښې سفر کووم- د انټرويو نه پس زه د 3 ورځو د مدني قافلې مسافر جوړ شوم او د خپلې بے روزګارئ په باره کښې مې د الله پاک په حُضُور کښې ښه په ژړا ژړا پخپله هم دعاګانې اوکړې او د مدني قافلې په مسافرو عاشقانِ رسول مې هم دعاګانې اوکړې- اوس لا د مدني قافلې دويمه ورځ وه چې ماته خبر راغلے چې ته په انټرويو کښې کامياب شوے ئې، د مدني قافلې نه د بيرته تللو نه يو څو ورځې پس ماته د کمپنئ د طرف نه ليټر هم ميلاو شو- داسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مدني قافلې په برکت سره ماته روزګار ميلاؤ شو-[1]

نوکری چاہئے، آیئے آیئے
تنگدستی مٹے دور آفت ہٹے

قافلے میں چلیں ، قافلے میں چلو
لینے کو برکتیں ، قافلے میں چلو[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... عجیب الخلقت بچی، صفحہ:13-
[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:672-675-

# هفتۀ ماهنامه فيضانِ مدينه

**[*BOOKING WEEK OF MONTHLY MAGAZINE FAIZAN E MADINA*]**

## د 5 جنورئ نه تر 12 جنورئ کال 2023ء پورې

ماهنامه فيضانِ مدينه اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! يو مکمل کورنے اسلامي ميګزين [يعني مجله] ده کوم چې دا وخت په 7 ژبو اُردو، **عربئ، انګريزئ، ګجراتئ، بنګالئ، هندئ او سندهئ** کښې جاري کيږي- تاسو هم خپل ميګزين [مجله] د ټول کال د پاره بُک کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

## کليز بُکنګ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ساده ميګزين | 1700 روپۍ (12 شميرې) | عربي يګزين | 1200 روپۍ (د کال 4 ميګزين) |
| رنګين ميګزين | 2500 روپۍ (12 شميرې) | انګلش ميګزين | 3600 روپۍ (12 شميرې) |

## د بُکنګ کولو ذريعې

❁ د شعبه تقسيمِ رسائل د ذمه وارانو سره رابطه اوکړئ ❁ د خپل ښار د نزدې **مکتبة المدينه** سره هم کليز بُکنګ کيدے شي ❁ د **مکتبة المدينه** په آفيشل ويب سائټ باندې آن لائن بُکنګ کيدے شي-

**/https://maktabatulmadinah.com**

❀ د QR کوډ سکین په ذریعه هم بُکنګ کولے شئ ❀ په کال سنټر 0313-1139278 د رابطې کولو سره بُکنګ کولے شئ- (د بُکنګ د نورو معلوماتو او تجویزونو د پاره په دې نمبر رابطه کیدے شي-)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږواو محترمو اسلامي ورونړو! بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د څینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوتصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّة چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## کم خوراک سُنَّت دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** کله چې بنده په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغه سینه د نُور نه ډکولے شي- (2)

اے عاشقانِ رسول! کم خوراک سُنَّت دے- ❀ زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو ❀ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنیا کښې تشریف فرما وو، چرې ئې هم پرله پسې 2 شپې په مړه ګیډه نه وه خوړلي ❀ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په ګیډه مبارکه پسې کاڼړي تړل-

[1]...تاریخِ دمشق، جلد:9، صفحہ:343-
[2]...جامع صغیر، صفحہ:35، حدیث:469-

**د خوراک د مِقدار په باره کښې حکمونه:** ❁ د لوږې ساتلو سره خوراک کول سُنَّت دي ❁ چې ځومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (يعني په دې کښې نه ګناه شته، نه ثواب) ❁ دومره په مَړه ګيډه خوړل چې د ګيډې خرابيدو ګمان وي، حرام دي ❁ دومره په مړه ګيډه خوړل چې د ګيډې خرابيدو انديښنه نه وي، مکروه دي ❁ په خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې خنډ شي، ناجائزه دي-[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... بہارِ شریعت، حصہ: 16، جلد: 3، صفحہ: 374 ملخصًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښېږ لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښېږ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښېږ د داخليدو وخت کښېږ هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښېږ د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1...اَفْضَلُ الصَّلَاة، صفحه:151، خلاصةً۔
2...اَفْضَلُ الصَّلَاة، صفحه:65۔

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا (70) دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ (6) لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1 ...قَوْلُ البَدِيع، باب ثانی، صفحه:277۔
2 ...اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔
3 ...قَوْلُ البَدِيع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

(د حِلم او كرم كوونكي الله پاك نه علاوه هيڅوك د عبادت لائق نشته، الله پاك دے، د اووه آسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْرِ والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

[2]... مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

[3]... تاريخِ ابنِ عَسَاكِر، جلد:19، صفحه:155، حديث:4415۔